# د افغانستان په چارو کی په تیره بیا دملی مسائیلوپه هکله دایران او پاکستان د حکومتونو بربنډو سیاسی غرضونو اواهدافوته یوه لنډه کتنه

**<u>په اوسنی کړکیچن اوغیر امنیتی حالاتو کی ایران او پاکستان غواړی</u>**

**<u>خپلی ګټی دافغانستان په راتلونکو انتخاباتو کی تمثیل کړی</u>**

**د سیاسي او پوځي چارو کارپوه دیپلوم کمیسار صدیق الله (ساهل)**

ایران او پاکستان دافغانستان دوه **نږدی** او په ظاهرکی دافغان جنګ **ځپلي** او خوار ولس دلسوزه، متعهده، په نیب کی صاف او با دیانته ګاونډي هیوادونه دی چی د افغانستان د تپل شوی دیرش کلن جنګ **جګړی** په **اوږدو** کی د قومونو او قبیلو په **منځ** کی جنګونه غزولی دی او په باالفعله و باالقوه توګه په **جګړواو** ورانیو کی **ونډه** درلودل او دافغان مسلمان ولس د **مړینی** او ژوبلی مستند او مشهود مسببان او عاملین دی.

جوته ده چی دتاریخ په **اوږدو** کی د ایران او دپاکستان د **دواړو** استخباراتی او نظامی لاسوهنو نتیجه وه چی تر اوسه مخصوصاً د ناتو په موجودیت کی د افغانستان په **جګړو** او نا امنیو کی لاس لری.

پورتنی مغرضو او مداخله ګرو هیوادونو او دهغوی ملګری د هاغو هدف درلودونکو هیوادونو له جملو څخه شمیرل کیږي چي دتاریخ په اوږدوکي په تیره بیاپه افغانستان کي د شوروي اتحاد د سره پوځ دیرغل دنیتي څخه وروسته په پربنډو توګه زمونږدګران هیواد په چارو کي دخپلوناوړو ګټو په ترلاسه کولوکي په سیاسي، اقتصادی، بیارغونی او پوځي اړخونو کي د دوستي او ورورګلوي تر شعارلاندی ډول ډول کرغیړن تحرکات ترسره کړي او افغان مسلمان ولس ته د سر او مال **زیښت** زیات تاوانونه رسولی دي.

دپورتنیو مغرضو هیوادونو د شرمه څخه ډك ناوړو لاسوهنو او سیاسي تحرکاتو له جملو څخه زمونږپه ګران هیواد کي په تیره بیا په دي ورستیو کي زمونږدپښتنو او هزاره ورونو په منځ کي دنفاق او شقاق د بیا را ژوندي کولو او په هیواد کي د ګډوډیو، نا امنیو او وینو تویولوپراخه موقع او زمینه برابرولو لپاره هڅي او هاند د ځینو پلورل شویو او سست عنصرو افغاني ګوډاګیانو په واسطه په پراخه پیمانه پیل شوي دي، چي زمونږ هیوادوال په تیره بیا ګران لوستونکي د تورخمه څخه تر تورغونډۍ پوري تري خبردي.

داچي هوس هوس په موجوده حساسو شرایطو کی دافغانستان د ځوان حکومت او دخلکو دمنتخب نمایندګانو په وړاندي هاغه ملی اودروند مسئولیتونه چي په هیواد کی د ملي وحدت تأمینول، ملي ګټي خوندی کول ، ملي امنیت راوستل او تولنیزعدالت پراخولو په لاروچارو کي دروند **پیټۍ** پروت دئ، چي د قضیي یوه اساسی اړخ تشکیلوي، همداشان له بلي خوا څرنګه چي ولیدل شو په غزني او بامیانو په ولایتونو په خینو سیمو او علاقو کی کي دکوچیانو او هزاره ورونوپه منځ کي د تاوتریخوالی په اړوندو مسایلو کي زمونږ په هیواد مین ځیني منتخب نمایندګانو ولي د یو اود بلو پلمو خپلو اعتراضاتو او اعتصاباتو ته قانونی **بڼه** ورکوی؟ او ولي د څه دپاره په کابل پوهنتون کي دمحصلینو د پاکو احساساتو څخه د یو او بل قشر په ګټه او خلاف سیاسي ګټی **اوچتیږی**؟ آیا

ويلاي شو چي په دي اړوندو ملی ضد مسائلو کي دچا لاسونه **دی**؟ مسلمه او ثابته خبره ده چي نه يواځي په دي ورستيو تاوتريخوالو کي بلکي په مجموعي توګه ويلاي شو چي د افغانستان ګاونډي هيوادونه (ايران او پاکستان) هيڅکله نه غواړي چي زمونږ په جنګځپلي هيواد کي سوله او امنيت تآمين شي.

د بهرنيو صاحب غرضو ټولګيو او ځواکونو، کوم چی په افغانستان کی ملی، ژبنيز، قومی، نژادی او مذهبی مسايلو کی ګوتی وهی او دقومونو او قبايلو تر منځ ملی نفاق او بيلتون منځ ته راولی په لاندی ډول سياسی او استراتيژک اهداف او پلانونه لری:

1- په افغانستان کی دجنګ جګړو دوام او پراختيا.

2- په افغانتسان کی پراته او ميشته ناټو ځواکونوته تهديد او ګواښ.

3- دافغانستان موجوده حکومت کمزوری کول.

4- دافغانستان په راتلونکی رياستی او پارلمانی انتخاباتو په درشل کی دخپلو پخوانيو تالی څټو طرفدارانو په منځ کی دسياسی و اقتصادی هدفونو د تامينيدلو په منظور نفوذ او حضور پيداکول.

5- د تش په نامه آزاد اقتصادی بازار څخه به ګټه اخستلو په ټول هيواد کی د خپلو بی کيفيتوصنعتی، خوراکی، ملبوساتی، طبی اواستهلاکی توليداتو او توکو د هيواد بی سرحده او بی دروازی ښارونو او بازارونو ته په قانونی او غير قانونی توګه واردول او پيرودل.

**په پای کی ويلای شو چی په سيمه کی د پورتنيو نوښتونو او سياسی خوزښتونو څخه داسی څرګنريزی چی مغرضو هدف لرونکو او مداخله ګرو هيوادونو تر هاغه وخته پوری به خپلو کرغيړنو پالسيو ته به دوام ورکړی تر څو چی دافغانستان جيوپولوتيک او جيواستراتيژيک منل شويو بين الاقوامی يا بين المللی پولی، کرښی او سرحدات ونه ټاکل شی و په پوره توګه ستراو امن نشی.**

**او له بلی خوا په افغانستان کی د پوره ثبات، امنيت او ټولنيزعدالت تأمينول او راوستلو په لارو چارو کی د يو اساسی، منل شوئ، انطباقی ميکانيزم او استراتيژی ضرورت ليدل کيزی چی د يو پياوړئ اسلامی او حقوقی نظام په رڼا کی د جناب منتخب جمهور رييس کرزی او د افغانستان پخوانئ وزير جلالی صاحبانو او همدا شان د نورو ملی او نړيوالو منابعو په قول او ويناوی" افغاني و بهرني قاچاقبران، مفسدين، رشوت خواره، ټوپك سالاران، بی تعهده، بی تجربه، بی ظرفيته، تپل شوئ، مصلحتی، غرب خپلی دوه تابعيتان او غيرمسلکی اشخاص او افراد پکی نه وی او دقانون د غير مشروط،، تنفيذ د زمان، مکان او نورو مبتذلو سليقو او ملاحظاتو څخه پرته په غوڅه توګه پلئ شی. نو هاغه وخت ليدل کيژی چی نه يواځی د هيواد او د خلکو دبهرنيو اوکورنيو دښمنانو لاس د افغانستان څخه پريکيزی بلکی په هيواد کی ټول ميشته مسلمان ورونو او قومونو په يو آواز او يو لاس دخپل ويجاړ او جنګځپلی هيواد په بيا رغاونی کی د اعتماد او وروړګلوئ ترسيوری لاندی ونده اخستئ شی او بس.**